**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د پېړۍ مُجَدِّد؛ جلیل القدر عالم، تقی الدین نبهاني رحمة الله علیه

**(ژباړه)**

پوښتنه:

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!**

الله سبحانه وتعالی مو ژر تر ژره فتحه او بریا په برخه کړه؛ فتحه د هغه سبحانه وتعالی په لاس کې ده او پر دغه کار برلاسی دی!

زما پوښتنه د «تجدید» اصطلاح د مفهوم په اړه ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث کې راغلې ده: «**إن الله یبعث علی رأس کل سنة من یجدد لهذه الأمة دینها.**» کله چې د پېړۍ مُجَدِّد؛ جلیل القدر عالم، تقی الدین نبهاني رحمه الله وي، ایا د هغه جلیل القدر عالم رحمه الله له وفات سره «تجدید» پای ته رسېږي او که د هغه حزب په شتون کې چې د هغه فکر لېږدوي، بیا هم «تجدید» ادامه مومي؟ الله سبحانه وتعالی دې تاسو ته اجر درکړي!

**ځواب:**

**وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!**

لومړی: له کوم حدیث څخه چې تاسو یادونه وکړه، هغه حدیث دی چې ابو داود په خپل سنن او نور محدثینو له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا»**

**ژباړه:** *«الله (سبحانه وتعالی) د هرو سلو کلونو په پیل کې داسې یو څوک د امت لپاره را استوي چې د امت دین تجدید (تازه) کړي.»*

د دغه حدیث په اړه باید د الله سبحانه وتعالی په کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې د شرعي ثابتو مفاهیمو په چوکاټ کې ځان پوه کړو. ستاسو پام لاندې ځینو شرعي مفاهیمو ته را اړوم:

۱. د الله سبحانه وتعالی د دغه قول له نازلېدو سره:

**﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ﴾** [مائده: 3]

**ژباړه:** *«نن مې ستاسو دین، ستاسو لپاره بشپړ او خپل نعمت مې پر تاسو پوره کړ. اسلام مې ستاسو لپاره د دین په توګه غوره کړ.»* [مائده: ۳]

د دغه سپېڅلي ایت په نازلېدلو سره د اسلام دین چې په حقیقت کې یو لوی دین دی بشپړ شو او دا یو مسلم او ثابت امر دی؛ د اسلام مبارک دین تر بشپړېدو لږ وروسته او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وفات سره وحې بنده شوه. له همدې امله، دین په خپل ذات او وصف کې د الله سبحانه وتعالی له لوري وحې وه، چې د وحې په بشپړېدلو سره بشپړ شو او د زیاتوالي او کموالي لپاره پکې نور ځای نشته. همدا راز دغه دین له هغه وخت راهیسې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په بشپړه توګه ابلاغ کړی، د قیامت تر ورځې او تر څو چې دنیا شته، ثابت او قائم دی. دغه موضوع د مسلمانانو په فکر او ذهن کې منل شوې او د اسلامي ثابتو حقایقو له ډلې ده او هېڅ شک پکې نشته.

۲. لکه څرنګه چې د اسلام په دین کې زیاتوالی او کموالی ځای نه لري؛ شونې نه ده چې د دغه حدیث شریف «**مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا**» موخه دا وي چې د دین په ذات کې تجدید د یو څه په کمولو یا زیاتولو او یا د عموم په تخصیص، د مطلق په تقیید او نورو توجیه شي؛ ځکه چې د وحی په بندېدلو سره په دین کې د زیاتوالي، نسخ، تخصیص، تقیید او داسې نورو دروازې بندې شوي؛ ځکه چې د دین او نورو یادو شوو مسایلو لپاره له وحې پرته په بله لار د زیاتوالي او کموالي ځای نشته؛ دین اصلاً پخپله وحې ده؛ یعنې دا هغه څه دي چې پر رسول الله صلی الله علیه وسلم نازل شوي او کله چې د دین په ذات کې تجدید ناشونی دی، نو پکار ده چې د تجدید اصطلاح او موضوع نورو امورو ته راجع کړو.

۳. اسلام مبدأ ده؛ یعنې اسلام هغه عقیده ده چې خپل نظم او نظام لري. نو اسلام د هغو افکارو او احکامو ټولګه ده چې په بشپړه توګه د الله سبحانه وتعالی له کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه اخیستل شوې؛ همدا راز د اصحاب رضوان الله علیهم اجماع او قیاس د دې ارشاد او لارښوونه کړې؛ دغه اجماع او قیاس هم د الله سبحانه وتعالی له کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو رېښه اخلي.

لکه څرنګه چې د شریعت له مخې د اسلام د افکارو او احکامو په ذات کې تجدید د تصور وړ نه دی، باید تجدید په داسې مسله کې وشي چې د اسلام په افکارو او احکامو پورې اړه ولري. دغې مسلې ته په پام سره داسې پوهېدلی شو چې دوه اړخونه او دوې اساسي موضوعګانې دي چې د اسلام په افکارو او احکامو پورې اړه لري؛ لومړی د اسلام پر احکامو او افکارو پوهېدل او دویم د اسلام د افکارو او احکامو پلي کول. نو مسلمانان هغه کسان دي چې پر اسلام پوهېږي او پلی کوي یې؛ خو د موضوع په اړه د پام وړ مطلب دا دی چې ځینې وخت د اسلام په اړه د پوهې او تطبیق اړوند د مسلمانانو او یا لږ تر لږه د ځینو مسلمانانو له نظره ابهام، التباس، خلل او تېروتنه رامنځ ته کېږي، د همدغه خلل له امله داسې څه اسلام ته ورزیاتوي چې په اسلام پورې اړه نه لري؛ خو دوی یې د اسلام برخه بولي او یا هم مسلمان داسې یو شی له اسلام څخه کموي او هغه ته پام نه کوي چې په اسلام کې شته. دغه راز کله ناکله د مسلمانانو له نظره د اسلام د فهم او پلي کولو په اړه داسې شیان رابښکاره شي، چې له اسلام سره هېڅ ورته والی نه لري، لکه:

الف. اسلام ته داسې شی ور اضافه کول چې هغه له اسلام څخه نه وي او له اسلام څخه د داسې یو شي کمول چې په اسلام کې وي؛ بدعتونه هم په دغې مسله کې شاملېږي.

ب. په دې اړه چې اسلام مبدأ  او د ژوند نظام دی د اسلام په فهم کې ابهام او التباس او یا د اسلام په ځینو افکارو او احکامو کې ابهام او التباس.

ج. په فردي، ډلهایزه توګه او یا هم د حاکم له لوري د اسلام په پلي کولو کې غفلت او یا هم  په پلي کولو کې له غیر اسلام سره د اسلام ګډول.

۵. د دې لپاره چې د دین فهم او پلي کول له وحې سره سم خپلې بڼې ته راوګرځي، یعنې مسلمانان د دین فهم او پلي کول د اسلام له افکارو او احکامو سره سم؛ له ابهام، خلل، زیاتوالي، کموالي او تېروتنې پرته وکړي؛ الله سبحانه وتعالی د هرو سلو کلونو په پیل کې داسې څوک پیدا او د مسلمانانو د خدمت لپاره غوره کوي چې د دین د تجدید لپاره په هماغه بڼه چې نازل شوی؛ په صفا، پاک او شفافه توګه کار او فعالیت کوي، چې نه کومه تېروتنه پکې کوي او نه هم څه پکې ګډوي او د دین فهم او پلي کول همغه لومړني حالت؛ یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت وخت ته په همغه د پاکۍ، صفایی او وضوح صفت ته ورګرځوي. څه چې په دین پورې اړه نه لري، لرې کوي یې او هغه څه چې ښايي په پوښلې او پټه توګه د اسلام احکامو او افکارو ته ننوځي، هغه ښکاره کوي او کوم ګرد چې ښايي د اسلام پر فهم پرده وغوړوي، هغه لرې کوي او که هغه کس حاکم وي، د اسلام د بشپړ پلي کولو لپاره کار کوي. د (یجدد) لفظ د هغه شي د توصیف لپاره دی چې یو شی تازه کوي؛ یعنې نه یوازې دا چې شی تازه کېږي، بلکې په دې مانا چې یو څوک یو شی تازه کوي؛ یعنې خپل تازه، لومړني حالت ته یې ورګرځوي؛  قاموسونه د «جدد» کلیمه داسې معنی کوي:

د المحیط قاموس: «جَدَّ يَجِدُّ، فهو جَدِيدٌ. وأَجَدَّهُ وجَدَّدَهُ واسْتَجَدَّهُ: صَيَّرَهُ جديداً فتَجَدَّدَ» لسان العرب «وأَجَدَّه وجَدَّده واسْتَجَدَّه أَي صَيَّرَهُ جديداً» نو د (یجدد) کلیمه چې په دغه حدیث شریف کې راغلې، په دقیقه توګه سم مدلول رسوي؛ یعنې خپل لومړني حالت ته د اسلام ورګرځول؛ د دې معنی دا نه ده چې په دین کې بدلون راولي.

٦. علما په دغه حدیث شریف کې د تجدید کلمې په اړه نظرونه لري، چې ځینې یې دلته راوړو:

ـ په عون المعبود کې راغلي:

(من یجدد) د یبعث فعل مفعول دی. (لها) یعنې د دغه امت لپاره. (دینها) یعنې مُجَدِّد کس سنت له بدعت څخه بېلوي، علم زیاتوي او اهل علم ته نصرت ورکوي. په همدې توګه، اهل بدعت له منځه وړي او ذلیل کوي یې. وايي: مُجَدِّد کس باید پر ظاهري او باطني علومو پوه وي. مناوي هم دغه قول د جامع الصغیر په شرح فتح القدیر کې راوړی او همدا راز علقمي په خپله شرحه کې د تجدید معنی د هغه څه احیاء او بیا ژوندي کول بللي چې د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق هېر شوي او امر کول یې د الله سبحانه وتعالی د کتاب او رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مطابق دي.
له دغو خبرو پوهېږو چې د تجدید موخه د هغه شي احیاء او را ژوندي کول دي، چې د الله سبحانه وتعالی د کتاب او رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو سره سم پرې عمل کول هېر شوي دي او همدا راز د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو له غوښتنې سره سم امر کول او د بدعاتو او محدثاتو ښکاره کول دي. په مجالس الابرار کتاب کې راغلي دي: د امت په اړه د دین تجدید کول د هغه شي احیاء او را ژوندي کول دي، چې د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله

عليه وسلم له سنتو سره سم پرې عمل کول هېر شوي وي او دا د همدغو دوو سرچينو پر غوښتونو امر دی. همدا راز په دغه کتاب کې ويل شوي دي: دغه مُجَدِّد له غالب ظن پرته نه پېژندل کېږي؛ ځکه چې علماوو يې د احوال قرائن پيدا کړي او له علم څخه يې گټه اخلي؛ ځکه د دين مُجَدِّد بايد د دين پر ظاهري او باطني علومو پوه، پر سنتو متکي او د بدعت له منځه وړونکی وي؛ همدا راز د هغه علم بايد د هغه د وخت پر ټول اهل عموميت ومومي.

د هرو سلو کلونو په پيل کې تجديد، په دين کې د ډېرى علماوو د منحرف کېدو، د سنتو د هېرېدو او د بدعتونو د ښکاره کېدو په سبب رامنځته کېږي، چې د دين تجديد ته اړتيا پېښېږي. ځکه الله سبحانه وتعالی د پخوانيو پر ځای ځوک راولي؛ دا ښايي يو کس وي او يا څو کسان. ملا علي قاري په المرقاة کتاب کې ويلي دي: مُجَدِّد سنت له بدعت څخه بېلوي او علم زياتوي؛ مُجَدِّد د اهل علم عزت کوي او بدعت له منځه وړي او اهل بدعت ته ماتې ورکوي. نو په ډاگه کېږي چې مُجَدِّد هغه کس دی چې پر ديني علومو پوه وي؛ عزم او اراده يې شپه او ورځ د سنتو احياء او خپرول وي او همدا راز د سنتو له څښتن سره مرسته کوي او په چارو کې د بدعاتو او محدثاتو له منځه وړونکی وي. مُجَدِّد اهل لسان او د کتابونو پر ليکلو، تدريس او نورو اغيزناکو اعمالو برلاسی وي؛ څوک چې دغه ځانگړنې ونه لري، که پر علومو پوه، د خلکو په منځ کې مشهور او د خلکو لپاره مرجع هم وي، مُجَدِّد نه گڼل کېږي.

د مشکاة المصابيح په شرحه مرقاة المفاتيح کې راغلي دي:

«...(من يجدد) د يبعث مفعول دی. (لها) يعنې د دغه امت لپاره. د (دينها) موخه د امت لپاره د دين تجديد دی. د هغه شي احياء کول دي چې د الله سبحانه وتعالی پر کتاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سنتو عمل او د دغو دوو سرچينو د غوښتنو له مخې امر وشي. همدا راز مُجَدِّد بايد د بدعتونو او محدثاتو او همدا راز د ژبې او کتابونو د تصنيف يا تدريس او نورو اعمالو په وسيله چې په دې برخه کې مرسته کوي، د اهل بدعت له منځه وړونکی وي. دغه مُجَدِّد يوازې په غالب گومان او د احوالو په قرائنو او خپل علم په کارولو د هغه وخت له عالمانو څخه تفکيک او پېژندل کېږي؛ ځکه مُجَدِّد بايد په ظاهري او باطني توگه پر ديني علومو پوه، د سنتو ناصر او مرسته کوونکی، او د بدعتونو له منځه وړونکی وي او علم يې د هغه وخت پر ټولو علماوو عموميت ولري. د هرو سلو کلونو په پيل کې تجديد د ډېرى علماوو د منحرف کېدلو، د سنتو هېرېدو او د بدعتونو د ظهور له امله وي؛ نو هغه وخت د دين د تجديد اړتيا وي. له همدې امله، الله سبحانه وتعالی د سلف او پخوانيو خلکو پر ځای يو کس يا ډېر کسان راولي؛ دغه مسله همدغه ډول په مجالس الابرار کتاب کې هم راغلې...)

دويم: د مُجَدِّدينو او په ټوله کې د څوارلسمې پېړۍ مُجَدِّد په اړه مو د ۲۰۱۳م کال، د جون ۲۳مې نېټې پوښتنې په ځواب کې داسې ويلي وو:

«پوښتنه:

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

زموږ محترم شيخ صاحب! الله سبحانه و تعالی دې برکت او ژر تر ژره نصرت درکړي او ستاسو له علمه دې موږ مستفيد کړي.

په يوه مشهور صحيح حديث کې له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت شوی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا»**

**ژباړه** *«الله سبحانه وتعالی د هرو سلو کلونو په پیل کې داسې یو څوک دغه امت ته را استوی چې د امت دین تجدید (تازه) کړي.»*

[ ابو داود، ۴۲۹۱مه شمېره؛ سخاوي په «المقاصد الحسنة» کې، ۱۴۹مه او الباني په «السلسلة صحيحة» کې، ۵۹۹مه شمېره؛ دغه حدیث صحیح بللی.]

پوښتنه دا ده چې د دغه حدیث معنی څه ده؟ په دغه حدیث کې د «من» کلیمه د فرد معنی ورکوي که د ډلې؟ په تېرو پېړیو کې د مُجَدِّدینو حصر شوني دی؟ جزاکم الله خیراً!

ځواب:

وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

هو، دا حدیث صحیح دی او پنځه مسلې پکې دي:

۱. سل له کومې نېټې پیلېږي؟ د رسول الله صلی الله علیه وسلم تولد که بعثت؟ هجرت که د هغه صلي الله علیه وسلم وفات؟

۲. ایا «رأس کل مئة» د هرو سلو کلونو د پیل معنی لري؟ که د هر کال د جریان او پای؟

۳. ایا د «من» کلمه د فرد معنی ورکوي که د خلکو د هغې ډلې چې خپل دین تجدیدوي؟

۴. په تېرو کلونو کې د رجال مُجَدِّد د شمېر په اړه صحیح روایات شته؟

۵. پر دې پوهېدی شو چې په ۱۴مه پېړۍ کې چې د ۱۳۹۹ هـ.ق کال، د ذي الحجې په ۳۰مه پای ته ورسېده؛ د خلکو د دین مُجَدِّد څوک و؟

زه هڅه کوم چې په اختلافي ټکو کې له ژور تګ پرته د دغو پنځو مسلو په اړه خپل نظر ووایم. دا توفیق الله سبحانه و تعالی راکړی او همغه سمې لارې ته هدایت کوونکی دی:

۱. سل له کومې نېټې پیلېږي؟

المناوي د فتح القدیر په مقدمه کې ویلي: «د هرو سلو کلونو د پیل په اړه اختلاف دی، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تولد څخه پیلېږي که له بعثت څخه؟ له هجرت څخه پیلېږي که د هغه صلي الله علیه وسلم له وفات څخه؟ زما په نظر راجح نظر دا دی چې د هجرت نېټه اعتبار لري؛ ځکه چې د هجرت نېټه یوه برخلیک ټاکونکې پېښه وه چې اسلام او مسلمانانو عزت ورسره ترلاسه کړ. له همدې امله، کله چې عمر رضی الله تعالی عنه د تاریخ د پیل د توافق لپاره صحابه راټول کړل، صحابه‌وو د هجرت نېټه غوره او اجماع یې پرې وکړه. طبري په خپل تاریخ کې لیکي: «... له سعید بن مسیب څخه مې اورېدلي چې ویل یې: عمر بن خطاب رضی الله عنه خلک راټول کړل او له هغوی یې وپوښتل: له کومې ورځې (نېټه) ولیکو؟ علی رضی الله تعالی عنه وویل: له هغې ورځې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هجرت وکړ او د شرک خاوره یې پرېښوده؛ عمر رضی الله تعالی عنه د علي رضی الله

تعالی عنه له نظر سره سم تاريخ غوره کړ. ابو جعفر ويلي: د هجرت لومړی کال د هماغه کال د محرم له مياشتې محاسبه شوی؛ يعنې مدينې منورې ته د رسول الله صلی الله عليه وسلم تر رسېدو دوې مياشتې او څو ورځې وړاندې. رسول الله صلی الله عليه وسلم مدينې منورې ته د ربيع الاول په دوولسمه ورسېد.

نو موږ غوره ګڼو چې د سلم کال محاسبه له هجري نېټې پيل شي؛ ځکه چې اصحابو کرامو پر دغې نېټه اجماع کړې.

۲. خو د سلو کلونو د پيل په اړه راجح نظر دا دی چې د سلو کلونو پيل د هجري سلو کلونو پای دی؛ يعنې مُجَدِّد د سلم په وروستيو کې راځي او هغه يو عالم، مشهور، با تقوا او پاک شخص وي او د سلو کلونو په نيمايي يا پای کې نه، بلکې د هجري کال په وروستيو کې وفات کېږي. ما دغه نظر په لاندې دلايلو غوره وباله:

الف. د صحيحو رواياتو پر اساس ثابته شوې ده چې د لومړيو سلو کلونو مُجَدِّد عمر بن عبدالعزيز و؛ په داسې حال کې چې عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه په ۱۰۱ هـ.ق کال کې د څلوېښتو کلونو په عمر وفات شو. همدا راز د دويمو سلو کلونو مُجَدِّد امام شافعي رحمة الله عليه دی، چې په ۲۰۴ کې وفات شو؛ په داسې حال کې چې د امام شافعي عمر ۵۴ کلونه و او کله چې د "رأس کل مئة سنة" تفسير له دې پرته معنی شي؛ يعنې د سلو کلونو پيل، نو عمر بن عبدالعزيز لومړی مُجَدِّد نه راځي؛ ځکه چې عمر بن عبدالعزيز په ٦١ هـ.ق کال کې زيږېدلی. دغه راز امام شافعي رحمة الله عليه هم دويم مُجَدِّد نه راځي؛ ځکه امام شافعي په ۱۵۰ هـ.ق کال کې زيږېدلی. نو د هرو سلو کلونو پيل چې په حديث شريف کې يې يادونه شوې، د سلو کلونو د لومړيو په معنی نه، بلکې د هغو وروستيو په معنی دی. نو دوی د سلو کلونو په جريان کې زيږېدلي؛ د همغو سلو کلونو په وروستيو کې مشهور علما او مُجَدِّد شوي او د همغو سلو کلونو په وروستيو کې وفات شوي دي.

ب. خو د دې دليل چې عمر بن عبدالعزيز د لومړيو سلو کلونو مُجَدِّد و او امام شافعي د دويمو سلو کلونو مُجَدِّد و، دا دی چې دغه موضوع د امت د امامانو او علماوو په نزد مشهوره شوې ده. له متقدمينو او متأخرينو امامانو څخه زهری، احمد بن حنبل او داسې نورو اتفاق کړی چې عمر بن عبدالعزيز رحمه الله د هغو مُجَدِّدينو له ډلې څخه دی چې د لومړيو سلو کلونو په اول کې و او امام شافعي د هغو مُجَدِّدينو له ډلې دی چې د دوهمو سلو کلونو په سر کې و. عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په ۱۰۱ هـ.ق کال کې د څلوېښتو کلونو په عمر وفات شو او د خلافت موده يې دوه نيم کاله وه. امام شافعي په ۲۰۴ هـ.ق کال کې په ۵۴ کلنۍ کې وفات شو. حافظ ابن حجر په «توالي التأسيس» کې ويلي چې ابوبکر بزار ويلي دي: وامې ورېدل چې عبدالملک بن عبدالحميد ميموني ويل: زه له احمد ابن حنبل سره وم چې د امام شافعي يادونه وشوه. ما وليدل چې احمد د امام شافعي د مقام پر لوړوالي خبرې وکړې او ويې ويل: له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت شوی چې الله سبحانه وتعالی د هرو سلو کلونو په سر کې داسې يو ويښ او پوه کس راولي چې خلکو ته يې د دين تعليم ورکوي؛ ويې ويل له همدې امله عمر ابن عبدالعزيز د لومړيو سلو کلونو په سر کې د مُجَدِّد په توګه راغلی و؛ هيله لرم چې امام شافعي د دوهمو سلو کلونو په سر کې وي.

د ابو سعيد فريابي له لارې ويل شوي چې احمد بن حنبل ويلي دي: الله سبحانه وتعالی د هرو سلو کلونو په سر کې يو څوک ويښ او پوه ګرځوي، چې خلکو ته د سنتو تعليم ورکوي او پر رسول الله صلی الله عليه وسلم پورې دروغ نفی او لرې کوي او موږ وليدل چې د لومړيو سلو کلونو په سر کې عمر بن عبدالعزيز و او د دويمو سلو کلونو په سر کې امام شافعي.

حاکم په خپل مستدرک کې له ابوالولید څخه تخریج کړی چې ویلي یې دي: زه له ابوالعباس بن شریح سره په مجلس کې وم، یو شیخ ورته راغلی و او د هغه تعریف یې کاوه، ما واورېدل چې ویل یې: حَدَّثَنَا أَبُو الطَّاهِرِ الْخَوْلَانِيُّ، ثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ شَرَاحِيلَ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ، قَالَ:

**«إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا»**

**ژباړه:** *«الله سبحانه وتعالی د هرو سلو کلونو په سر کې داسې یو کس رالېږي چې د هغه دین تجدید کړي.»*

نو اې قاضي، زیری مې درباندې! الله سبحانه وتعالی د لومړیو سلو کلونو په سر کې عمر ابن عبدالعزیز رالېږلی و او د دویمو سلو کلونو په سر کې یې محمد بن ادریس شافعي رالېږلی دی...

حالفظ ابن حجر ویلي دي؛ له دې ښکاري چې دغه حدیث هغه وخت مشهور و.

ج. کله ویل کېږي چې (رأس الشئ) په لغت کې د (اوله) په معنی دی؛ نو موږ څنګه غوره بولو چې د هرو سلو کلونو له سر څخه موخه د هغه پیل نه، بلکې پای دی؟ ځواب دا دی چې د یو شي سر لکه څرنګه چې په لغت کې د شي اول ته ویل کېږي، همدارنګه د شي پر اخر هم معنی شوی. په تاج العروس کې ویل شوي؛ (رأس الشئ) یعنې طرفه او د ځینو په قول ویل شوي چې د هغه آخر دی. په لسان العرب کې راغلي (خرج الضب مرائسها؛ سمسارې خپل سر «اخر یې» راوویست) او ځینې وخت ویل کېږي «ذنب ها» یعنې خپل اول یا خپل آخر یې راوویست. نو لکه څرنګه چې راغلي دي، د شي سر په لغت کې د هغه د اول په معنی دی. د طرف په معنی هم راغلی؛ چې د لومړیو سلو کلونو له سر څخه موخه د هغو پیل یا پای دی؛ خو موږ هغې قرینې ته اړتیا لرو چې په حدیث کې مقصود معنی افاده کړي او د هغې په وسیله معلومه شې چې د لومړیو سلو کلونو له سر څخه موخه پیل دی که پای؟ له شک پرته په ذکر شوو روایاتو کې مرجح قرائن شته؛ ځکه چې عمر ابن عبدالعزیز د لومړیو سلو کلونو مُجَدِّد و او په ۱۰۱ هـ.ق کال کې وفات شو او امام شافعي د دوهم مُجَدِّد په توګه چې په ۲۰۴هـ.ق کال کې وفات شو. دغه ټول مرجح واقعیت دی چې په دغه حدیث کې یې معنی د سلو کلونو پیل نه؛ بلکې پای دی.

نو زه دا نظر غوره ګڼم چې په حدیث شریف کې د (رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ) معنی د هرو سلو کلونو پای دی.

۳. له (من) څخه موخه واحد فرد دی که ډله؟ ځکه حدیث داسې راغلی دی: «یبعث لهذه الأمة... من یجدد لها دینها» که (من) په دغه حدیث کې د جمع په مانا وی، خامخا یې فعل "من یجددون" د جمع په بڼه ذکر کېده؛ خو د (یجدد) فعل مفرد راغلی. داسې هم کېږي چې (من) کلیمه د جمع لپاره ذکر شي او وروسته فعل یې مفرد راشي؛ خو زه دا خبره سمه بولم چې دلته (من) د مفرد په معنی دی، ځکه چې په مفرده بڼه د (یجدد) فعل قرینه راغلې؛ دغه راز زه دا نظر غوره بولم چې (من) دلته د افرادو په معنی راغلی؛ خو دا د قطعي په معنی نه ده؛ که څه هم وروسته فعل یې مفرد دی. ځکه داسې کسان شته چې (من) د جماعت په معنی تفسیروي او د دغو روایاتو پر اساس په هرو سلو کلونو کې د علماوو ډلې د مُجَدِّدینو له ډلې شمېري؛ خو دغه خبره مرجوح او کمزورې ده؛ لکه یادونه مې چې وکړه.

نو زه دا نظر غوره بولم چې (من) پر واحد دلالت کوي؛ یعنې په حدیث کې مُجَدِّد یو عالم، با تقوی، پاک او د نورو نېکو اوصافو لرونکی کس دی.

۴. د تېرو پېړیو د مُجَدِّدینو د نومونو د شمېر په اړه باید ووایم؛ په دې اړه ډېر روایات راوړل شوي چې تر ټولو مشهور یې «ارجوزة السیوطي» کتاب دی؛ په دغه کتاب کې د نهمې پېړۍ لپاره هم مُجَدِّدین شمېرل شوي دي او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو چې هغه نهم مُجَدِّد وي؛ په دغه کتاب کې ځینې ذکر شوي موارد دلته راوړم:

د نظر په اتفاق سره په لومړۍ پېړۍ کې د مسلمانانو عادل خلیفه عمر مُجَدِّد و او په دوهمه پېړۍ کې امام شافعي مُجَدِّد و؛ ځکه هغه په علومو کې لوړ مقام درلود. په پنځمه پېړۍ کې استاد یعنې غزالي و چې په اړه یې اختلاف شوی دی. په اوومه پېړۍ کې د نظر په اتفاق سره ابن دقیق العید د حمیده اخلاقو څښتن؛ دا نهمه پېړۍ ده او په دې کې اختلاف نشته چې وروسته به هم هادي او مُجَدِّد راشي. هیله ده چې په دې پېړۍ کې زه مُجَدِّد وم؛ ځکه د الله سبحانه وتعالی پر له فضل څخه باید نهیلي نه شو. په دې اړه نور نظریات هم شته.

۵. ایا پر دې پوهېدی شو چې په ۱۴مه پېړۍ کې چې د ۱۳۹۹ هـ.ق کال، د ذي الحجې په ۳۰مه پای ته ورسېده، د خلکو د دین مُجَدِّد څوک دی؟

د مشهورو او معتبرو علماوو نظرونو ته مې کتنه وکړه او دې پایلې ته ورسېدم چې د هرو سلو کلونو پیل د هغوی پای دی. نو عمر بن عبدالعزیز په ٦١ هجري کې تولد او د ۱۰۱ هـ.ق کال د سلو کلونو په اول کې وفات شو. امام شافعي په ۱۵۰ هـ.ق کال کې تولد او د دویمو سلو کلونو په سر کې وفات شو؛ یعنې له دوی څخه هر یو د پېړۍ په جریان کې تولد شوي او په اواخرو کې یې مشهور او همدا راز د هغې پېړۍ په اواخرو کې وفات شوي دي. لکه چې ومې ویل؛ زه همدا تفسیر غوره ګڼم؛ ځکه د معتبرو او معروفو علماوو په نزد دا خبره مشهوره وه چې عمر بن عبدالعزیز د لومړۍ پېړۍ مُجَدِّد و او امام شافعي د دویمې پېړۍ مُجَدِّد و.

نو زه غوره ګڼم چې علامه شیخ تقی الدین نبهاني رحمه الله د څوارلسمې پېړۍ مُجَدِّد وي؛ هغه په ۱۳۳۲ هـ.ق کال کې تولد شوی او د همدې څوارلسمې پېړۍ په اواخرو کې مشهور شو، په ځانګړې توګه کله چې یې د ۱۳۷۲ هـ.ق کال په جمادي الثاني میاشت کې حزب التحریر تاسیس کړ او په ۱۳۹۸ هـ.ق کال وفات شو. هغه مسلمانان د یوې برخلیک ټاکونکې قضیې پر لور یعنې د راشده خلافت د اقامې په تاسیس سره اسلامي ژوند ته راوبلل، چې دغه دعوت یې د مسلمانانو په ژوند او د هغه په اجتهاد او هڅو کې ډېر لوی اغېز درلود، په داسې توګه چې په اوسني عصر کې د خلافت مسله د ټولو مسلمانانو پر غوښتنه بدله شوې. الله سبحانه وتعالی دې پر ابو ابراهیم (تقي الدین نبهاني) او د هغه پر  ورور ابو یوسف (عبد القدیم زلوم) ورحمېږي او هغوی دې له انبیاوو، صدیقینو شهداوو او صالحینو سره محشور کړي؛ دوی څومره نېک او غوره ملګري دي!

دا هغه څه دي چې زه یې غوره ګڼم او ترجیح ورکوم. زما ورور ابا مومنه، الله سبحانه وتعالی تر ټولو ښه پر حق او صواب پوه دی او د هغه سبحانه و تعالی پر وړاندې دا غوره مقام دی.» (د تېرې پوښتنې ځواب پای ته ورسېد)

دربیم: ستاسو د پوښتنې په اړه (کله چې د پېړۍ مُجَدِّد جلیل القدر عالم تقی الدین نبهاني وي، ایا د هغه جلیل القدر عالم رحمه الله په مړینې سره تجدید پای ته رسېږي او که د هغه حزب په شتون کې چې د هغه فکر لېږدوي، بیا هم تجدید دوام لري؟) ځواب دا دی چې له هغه څه سره سم چې پورته مې توضېح کړل، د تجدید پروسه د (یوه عالم، با تقوی، پاک او د نورو نېکو صفاتو درلودنکي) کس په شتون سره رامنځته کېږي او د هغه له وفات سره د تجدید موضوع پای ته رسېږي؛ خو دا د تجدید د اغېز د ختمېدو معنی نه لري؛ بلکې اغېز یې د مسلمانانو راتلونکو نسلونو ته پاتې کېږي؛ دا تر هغه وخته دوام کوي چې د وخت په تېرېدو د فهم او پلي کولو په برخه کې خلل رامنځته شي. هغه وخت الله سبحانه وتعالی د ورپسې پېړۍ په پای کې یو څل بیا څوک رالېږي چې د امت دین تجدید کړي، یعنی د پنځلسمو سلو کلونو په سر کې؛ دا چاره داسې ده لکه پورته مو چې د الله سبحانه و تعالی په خوښه واضح او تفسیر مو یې بیان کړ. بیا هم الله سبحانه و تعالی تر ټولو ښه پوهېږي چې څوک به مُجَدِّد وي.

دا هغه نظر و چې زه یې په دې مسله کې غوره ګڼم او الله سبحانه وتعالی تر ټولو غوره عالم او حکیم دی!

**ستاسو ورور عطأ ابن خلیل ابوالرشته**

**۱۴۴۴هـ.ق کال، د شوال ٢٦مه**

**٢٠٢٣م کال، د مې ١٦مه**

**ژباړن: فریدون محتاط**